بسم الله الرحمن الرحيم

# اسلام د امریکا د لیبرال نظم پر وړاندې یوازینی واکسین دی

## خبر

امریکا له جرمني څخه د دوه لکه ماسکونو پر غلا تورنه ده. ویل کیږي چې دغه ماسکونه یې د خپلې ګټې اخیستنې لپاره غلا کړي دي. ګایسل وویل چې له برلین څخه په دې کچه د ماسکونو غلا، (د غلا نوی ډول) دی. مګر د ټرمپ اداره ادعا کوي چې دوی د تجارت نړیوالو قوانینو ته پابند دي. دا هغه څه نه دي لکه څرنګه یې چې تاسې له خپلو اقیانوسي ملګرو سره معامله کوی، وزیر وویل: «د نړیوال بحران په وخت کې هم د wild-west له کړنو څخه خوندي نه یو».

## تبصره:

د کووېد- ۱۹ ویروس په ډاګه کړه چې امریکا څومره وروسته د دغه ویروس پر وړاندې تیاری ونیو او غواړي چې د دغه ویروس مخنیوی وکړي. له یادې پېښې سره د ټرمپ ادارې د تولیداتو خپل تهاجمي حالت دفاعي حالت ته بدل کړ. د امریکا کاري قوه (امریکایي شرکتونه) باید طبي وسایل تولید کړي تر څو خپله

کورنۍ غوښتنه پوره کړي. دوی غوښتل چې جرمني ته درې میلیونه ماسکونه تولید کړي، نو امریکا په خپله وعده ثابته پاتې شوه. له دې څخه وړاندې چې کله ټرمپ ولیدل چې د کووېډ- ۱۹ لپاره د جرمني کمپنۍ واکسین واخلي، نو د ټرمپ اداري د برلېن غوسه راوپاروله. همدارنګه نور اروپايي هېوادونه هم له امریکا څخه د طبي وسایلو په اخیستلو کې له ډېر لوړ قیمت څخه شکایت لري.

دغه پوښتنه ټول دا بحث مطرح کوي چې ایا له کووېډ- ۱۹ وروسته به هم له اتلانتیک لوړه اړیکه موجوده وي. له کووېډ ۱۹ وړاندې د امریکا او اروپا اړیکې په نسبتاً ښو شرایطو کې جوړې شوې وې. خو د اروپا د امنیت په اړه د امریکا د ژمنو، بې شمېره سوداګریزو اختلافونو، د اقلیم او بهرني سیاست په برخه کې ژور اختلافات د دغو ۷۵ کلنو اړیکو د دوام په تړاو اندېښنې راپارولې دي.

د امریکا او اروپا تر منځ دا ډول کړکېچونه د کووید۱۹ له پېښې څخه مخکې هم راون و. د کووید۱۹ له ناورین څخه مخکې هم د امریکا اروپا تر منځ اړیکې ترینګلې وې. د امریکا او اروپا ترمنځ په تېرو ۲۷ کلونو اړیکو کې اروپا ته د اروپا د امنیت، ډېرو تجارتي ستونزو، د اقلیم د بدلون پر سر اختلافونو او بهرنی سیاست کې پر امریکا د تعهداتو اطمنان ورځ پر ورځ کمېږي.

په نړۍ کې د کووېډ۔ ۱۹ مسئلې دا پورته تېروتنې د کورني ملاتړ په وسیله خرابې کړې، یانې د عرضې په زیاتولو او په کورنیو تولیداتو کې د نورو د شاملولو په وسیله غواړي چې پر دغه ستونزه بریالي شي. بیا د مرکانتلېست (د څو ملیتونو یوځای کېدل) شکل ته راګرځېدل به وروسته له دغه جنګ څخه د

لېبرال یا ازادۍ مفکورې ته د پای ټکی کېږدي. د ځو ملیتونو د یووالی مفکوره به د ځو ملیتونو جدايي مفکوره له منځه یوسي، دغه ځوطرفي به د امریکا په ځان مغرور کېدل ارامه کړي او نړیوال به د امریکا نړیوالتوب له یاده وباسي.

د کووېد- ۱۹ ویروس دوام به د جنګ څخه وروسته دغه د ازادۍ غوښتلو مفکوره له منځه یوسي، هغه چې امریکا په اوو لسیزو کې په ډېره سختۍ سره ترتیب کړې ده او له دې وروسته چې نړیوال نظم رامنځته شي، د ۱۹۴۵ ز کال څخه مخکې نړیوال نظم سره به ورته وي، چې هغه وخت یې د نړۍ په بېلابېلو جغرافیایي مرکزونو کې شتون درلود، خو بیا هم اړیکې د ډېرو لوړو قوانینو په وسیله رهبري کېدلې.

کله چې نړۍ د کووېد- ۱۹ له سیاسي ناورین څخه راووځي، نو اسلامي نړۍ ته اړتیا نه شته چې چپ پاتې شي. د اوس خلاف که اسلامي امت یو له بل سره یوځای شي، نو کولای شي چې د راتلونکي نړیوال سیاست په لومړي قطار کې ځای ونیسي او اسلامي خلافت تاسیس کړي. د خلافت سیاسي مفکوره به یوازې د اسلام د اصولو په رڼا کې ښکاره کېږي او یوازې د خلافت سیاست د سېکولر ازادي غوښتونکو د سیاست پر وړاندې یو ښه واکسین کېدلای شي.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## لیکوال: عبدالمجید بهاتي

**۱۴۴۱ هـ ق کال، د شعبان ۱۸مه**

**۲۰۲۰ ز کال، د اپرېل ۱۱مه**

